# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیرسید عبدالقادر


۱۱ اپریل ۲۰۱۳

## داشغال تر بیرغ لاندي دافغان ملي شتمنیو برخه لیک






په دې حقیقت باندي پوهیږو چې دامریکا تر استعماري اشغال لاندي دبهرنیو کړیو، افغان ګوډاګي رژیم دواکمنانو اوددوي د هم ګټو نوکرا نو په زریعه افغان ملي فرهنګ ( مادي او معنوي شتمني ) دچور، چپاول او تباهي سره مخامخ ده ۰

د هر استعماري اشغال اصلي مخه د مادي شتمنيو چورول دي او دي ناروا مخي ته درسيدو له پاره لومړي دسياسي ډيپلوماتيکي لاري او که نه بيا ديوځي زور (اشغال ) په پايله کي غواړي خپلو مخو ته ځانونه ورسوي ۰ چي متأسفانه نن افغان غيور ولس ددا سي يو نړيوال استعماري ځواک سره لاس او ګريوان دي ، چي په پايله کي هره ورځ د افغان ولس ومخ ته دهم دې بهرنيو او کورنيو جنايتکارو کړيو له خوا بشري او اقتصادي جنايتونه تر سره کيږي ۰

ما غوښتل چي په دي ليکنه کي دافغان ملي شتمنيو هغه لويه برخه چي معدنونه جوړوي ، دخپلو امکاناتو په نظر کي نيولو سره يوه مستنده ليکنه ومحترمو لوستونکو ته وړاندي کړم ۰ ولي دنيکه مرغه د ( ۸ صبح ) ورځپاڼي او ويب پاڼي له طرفه د(معادن افغانستان تاراج ميشود ) تر سر خط لاندي دوطن دوستي دستر احساس له مخي ددي ورځپاڼي مشرتابه پس له دوومياشتو ډير زيار او زحمت په پايله کي وکړايسواي ، چي خپلو وطنوالو ته دافغان ګوډاګي رژيم يو شمير هغه اقتصادي جنايتونه چي يوازي دمعدن په وزارت کښي دهم دې وزارت دوزير وحيدالله شهراني ، دده دځانګړي ګروپ او بهرنيو کړيو له خوا تر سره سوي دي په مستند ډول دکمپوترپه نولسو ( ۱۹ ) صفحو کي خپلو وطنوالو ته په ګوته کړي ۰ زه هيله مند يم چي ټول هغه افغان سياسي ګوندونه، اجتماعي سازمانونه ، مستقل سياسي کارپوهان او په مجموع کي ټول روشنفکران چي افغان ملي ګټو ته ځانونه ژمن بولي ، بايد دااليکنه چي دحمل پر (۱۱) مه نيټه يي ونشر ته سپارلي ده ، په دقت ولولي ۰ او ددي جناياتو دافشا کولو له پاره نه يوازي بايد خپل ږغ پورته کړي ، بلکه ددي جناياتو دمخنيوي له پاره بايد ټول سياسي ملي سازمانونه او دمدني ټولنو غړي ددې ملي هدف له پاره سره يوځاي سي ، څو ددې چپاول مخه ونيول سي ۰ لازمه ده چي دا سياسي او اجتماعي ټولني په دې اړوند دمسلکي ، سياسى کارپوهانواونورو روشنفکرانوګډ سمينار جوړاوددې لوېي ملي سرمايي دساتلو له پاره يو دقيق ميکانيزم وملګرو ملتونو او افغان چارواکو ته وسپاري او دضرورت پر وخت پر ټول افغان ولس باندي ږغ وکړل سي چي ددې چپاول په مخ نيوي کي ددوي لاس نيوي وکړي او په دې لاره کي بايد ټوله ددې جنايتکارانو په وړاندي مقاومت وکړو ، پري نږدوچي د افغان ملي شتمنيو دا وروستني سنګر اوهستي دلاسه ورکړو۰ **اشغالګرو او ګوډاګي رژيم ته بايد خبرتيا ورکول سي چي دافغان ملي شتمنيو پلورل او ليلامول هيڅ نوع مشروعيت او قانونيت نه لري ، ددې صلاحيت يوازي دافغان ولس او يا ددوي دريښتينو استازو سره دي** ۰ چي متاسفانه په اوس مهال کي افغانستان اشغال او ولس په دولتي چارواکو کي هيڅ استازي نه لري ۰ځکه نو داشغال تر ماتي وروسته نوي لنډ مهاله دولت اويا منتخب دولت به ټول هغه قراردادونه چي دافغان ملي ګټو سره په تقابل کي قرار لري بايد فسخه او عاملين يي عدلي محکمي ته وسپاري۰دلته ديادولو وړ خبره داده چي دمعدن پخواني وزير انجنير محمد عادل د ۱۳۸۸ کال دجدي پر دوهمه ديوي پروژي دافتتاح کولو پر وخت دافغانستان دمعدونونو داستخراج په اړوند داسي ويلي وه : نړيوال بانک او نړيوال وجهي صندوق هلي ځلي کوي چي دافغانستان معدنونه ددوي دهيلو او مقرراتو سره سم نړيوال بازار ته وړاندي سي ۰ چي په دې اړوند ماته نن هم ددوي ايميلونه رارسيدلي دي ۰ زه دافغانستان دولت ته خبر تيا ورکوم که دافغانستان معد نونه ددوي دمقرراتو سره سم افغان چارواکي بازار ته وړاندي کړي ، او هم په دې اړوند دخصوصي سکتور مخه ونه نيول سي ، نو افغان ولس به پس له لسو کلونو څخه دافريقايي هيوادونو په څير وږي تږي او هر څه به نړيوالو اود خصوصي سکتورونوغلو ځيني وړي وي ۰ يعني دا ولس به پر خالي ميدان پاته وي۰ انجنير عادل ددې څرګندونو نيژدي يوه مياشت وروسته ددندي څخه ليري او پر ځاي يي دغربي استخباراتو سره تړلي غير مسلکي شخص وحيدالله شهراني چي ويل کيږي د صلاح الدين رباني دخاله زوي هم دي ، په داسي وخت کي دمعدن دوزير په توګه وټاکل سوو چي پلاري هم داوقافو دوزير په توګه دنده اجرا کوله ۰ ځکه نو معلوميږي چي دا کورني دغربي نړي د استخباراتواو کورنيو اقتصادي جنايتکارانو سره څونه نيژدي اړيکي لري ۰ چي داسي يو بي تجربه ، غير مسلکي کس د دغسي يو حساس اقتصادي وزارت په رأس کي ټاکل کيږي ، چي

نيژدي دافغان ولس راتلونکي بنه او بد ژوند د  هم دې وزارت په معد نونو ( تر مځکي لاندي زيرمو ) پوري مستقيم پيوند لري ۰ دا ځکه چی دافغانستان دمعدنونو نيژدي اټکل سوي ارزش د ( ديرشو تريلونو ډالرو ) پوري تخمين سوي دي ۰او دځينو رسنيو له مخي زموږ په وطن کي  د ( ۱۴۰۰ ) معدنونو دشتون خبرورکول سوي دي ۰متاسفانه تر اوس مهاله پوري بيا هم  تر  دوه سوه ډير معدنونه دهم دې وزارت دچاراواکو له خواه دډيرو ښکاره درغليو سره ديو شمير بهرنيو او کورنيو اقتصادي جنايتکارانو په لاس کي ورکړل سوي دي ۰ په داسي حال کي چی   د کابل دپوليتخنيک دجيالوجيستانوله نظره دافغانستان په معدنونو کي  دمنډليف دجدول ټول عنصرونه  شتون لري ۰چی ويلايسو دنړي په هيڅ ګوټ کي دداسي زيرمو څخه ډک بل مملکت شتون نه لري ۰ او داسي ويل کيږي چی مجموعي ارزش يي شايد تر پورتني رقم  هم ډير وي.

دآزادي دراډيو د ( ۵ــ ۸ ــ ۲۰۱۰ ) نيټي په حواله  دامريکا ددفاع وزارت دڅرګندونو له مخي افغانستان  د ليتيوم دشتون  له کبله  دونه داهميت وړدي لکه عربستان چی دتيلو له کبله اهميت لري  ۰په داسي حال کي چی دډيرو قيمتي معدني زيرمو تر څنګ  ديورانيومو څو معدنونه دهلمند د ولايت دخانشين په ولسوالي کي په پراخه اندازه شتون لري ، متاسفانه چی دامريکايي او انګليسي يرغلګرو خپله پوځي اډه هلته جوړه کړي او پردې ملي معدنونو باندي يي لاسونه راګرځولي اوديوي لسيزي راهيسي  دا معدنونه د چور او چپاول سره مخامخ دي ۰ چی نيژدي څلور کاله مخکي  يو ځل دامريکايي او انګليسي قواوو تر منځ دهم دې معدنونو پر سر باندي ځيني سياسي شخړي رامنځ ته چی په پايله کي دهلمند والي انجنير داود تبديل سوو۰  څو مياشتي مخکي ما په  يوه ليکنه کي دمعدنونو تخميني ارزش په هکله  دځينو معلوماتونو پر اساس پورتني رقم ليکلي وو۰ ولي دنيکه مرغه «ښاغلي کرزي» په تيره اوني کي په قطر کي دهغه ځاي دتجارانو سره دخبرو پر مهال  دافغانستان دمعدنونو دارزش په هکله هم د( ديرشو  تريلونه ډالرو)  تائيد وکړ ۰ ځکه نو اشغالي واکمنانو ته نه يوازي په دې منطقه کي د( هند، چين ، روسيي ) اقتصادي محاصره اود مرکزي اسيا اقتصادي زيرمو ته رسيدل ددوی  داقتصادي او نظامي ستراتيژي يوه برخه جوړوي  ، بلکه په خپله ګټه  د افغانستان د اقتصادي زيرمو تخليه هم ددوي دستراتيژي عمده اړخ تشکيلوي  ۰يرغلي ځواکونو واکمنان غواړي چی  دتروريزم ، مخدره موادو سره دمبارزي او ډموکراسي دپولي کولو تر نامه لاندي داشغال پروسه اوږده کړي ،  څو وکړايسي چی افغانستان داقتصادي زيرمو څخه خالي او  دا يرغمل ولس د يو شمير افريقايي هيوادنو په څير وږي او تږي پر خالي ميدان پريږدي ۰

ځکه نو دمعدنونو وزير بايد ددوي داستخباراتو ډير نيژدي غړي وي ۰ لکه پرعراق باندي دامريکا د پوځي يرغل پر وخت چی ټول وزارتونه يي بيله د نفتو وزارت څخه  تر هوايي  بريد لاندي راوستل ۰ په عراق کي امريکاته دنفتو وزارت داسي  داهميت وړ وو، لکه  په اوس مهال کي چی  دافغانستان  دمعدنونو وزارت دوي ته داهميت وړدي ۰بايد ووايو دمعدن په وزارت کبني شهراني دتقرر دلومړيو ورځو څخه خپلوغير قانوني هلو ځلو ته شروع وکړه او په غبرګون کبني يي سم دلاسه نيژدي لسو با تجربه مسلکي رئيسانو او  انجنيرانود وزير دغير قانوني او ملي ګټو ضد کارونوله کبله په جمعي ډول د  اعتراض په توګه استعفا وکړه ، چی په هغه وخت کي ددوي دا جمعي استعفا ږغ دآريانا دټلويزيون له لاري هم  خپور سوو ۰څو مياشتي  وروسته بيا مسلکي  معين يي  هم دوزير دغير قانوني کړنو له کبله  استعفاء وکړه ۰چی په پايله کي  دوزيرو اقتصادي جناياتوته ميدان خالي پاته سوو ۰ او دې مسلکي وطنپالو انجنيرانو د ۶ ــ ۱ ــ ۱۳۸۹ نيټي باندي يو سر خلاصي ليک دجمهوري رياست ، دفساد پر ضد دمبارزي دعالي اداري او دپارلمان ددواړو مجلسونو دشکايتونو دکميسون پر نامه ور ليږلي دي او په دې ليک کي دوزير غير قانوني کړني ، دمسلکي پوهي نشتوالي ، دوزارت دمنسوبينو تهديد، تحقير، تعقيب ،  اذيت او هم دغير مسلکي او بي تجربه ګروپ

دځاي پر ځاي کيدو په هکله  او په راتلوونکي وختونو کي ددې ګروپ په زريعه دمعدنونو چور او چپاول ددي ليک اصلي متن جوړاوه ( ۸ ـ صبح ) ۰

معلومه خبره ده چې د جمهوري رياست واکمنانو ولي تر دې مهاله  ددې ليک په هکله  هيڅ ډول غبرګون نه دي ښکاره کړي ۰ دا ځکه چې ددې ليک په لوستلو باندي به يې حتمأ ډيرخندلي هم وي ۰ او خپل تر منځ به يې سره ويلي وي چې دا انجنيران لا تر اوسه نه پوهيږي چې موږ داشغالي ځواک سره دڅه دپاره راغلي يو، او دا زموږ اصلي مخه ده چې په وطن کي چور او چپاول مخ ته ولاړ سي ۰  دولسي جرګي د  طبيعي منابعو او چاپيريال دکميسون غړي ګل پاچاه مجيدي هم  وايي چې : دمعدن دوزارت مسؤولين داداري فساد او معامله ګري له پاره ډول ډول مشاورين مقرر کړي دي ، چې اکثره مشاورين يي دهغو کمپنيو استازي  هم دي چې دوطن پر ځينو معدنونو يي هم پانګه اچونه کړي ده ۰ بايد وويل سي چې ددې وزارت بهرني او کورني چاروکي  دنورو اقتصادي جناياتو تر څنګ په دونه لوړه کچه مياشتني معاش اخلي چې دنړې په هيڅ ګوټ  کي شتون نه لري ۰ دبيلګي په توګه مارک نسبيت چې يو امريکايي دي دحقوقي مشاور په توګه دمياشتي ۱۰۷۵۲۰ ( يوسلو اوه زره پينځه سوه او شل ) امريکايي ډالره او بل امريکايي مشاور يي ۴۹۷۲۸ او کاناډايي مشاور يي ۵۵۰۰۰ ډالره او نور بهرني مشاورين يي هم ۴۹۰۰۰ ډالرو پوري مياشتني معاش لري  اوتر څنګ يي  دوه تابعيته مشاورين تر لس زرو  امريکايي ډالرو ډير معاش اخلي.

دبيلګي په ډول عتيق صديقي ( ديرش زره ډالره ) اوبل مشاور ويس شيردل يي  ( ديارلس زره پينځه سوه امريکايي ډالره ) بيله ماليي ورکولو څخه دمياشتي اخلي ۰اودواړه دامريکايي تابعيت لرونکي دي ( ۸ ـ صبح ) ۰ دلته  به په لنډه توګه  دآمو سيند دتيلو دحوزي دقرارداد  په هکله يوڅه وليکو  : دآمو دسيند دتيلو ( سرپل ، جوزجان ، فارياب ) حوزه يوه دهغو پينځو حوزو څخه ده چې دمملکت په ځينو برخو کي شتون لري ، لکه د کندوز او تخارد سيمي حوزه دهرات دتيرپل حوزه ، دهلمند دنفتو حوزه ، دکتواز دنفتو حوزه  ۰په دې سيمو کي  دځينو بهرنيو او کورنيو رسنيوپه حواله نيژدي تر  ( دوه ميلیارده بيلره ) دنفتو ذخيري شتون لري ۰ دا په داسي حال کي چې په ټول مملکت کي لا تر اوسه د معدنونو په هکله پوره تحقيقاتي  معلومات نه دي تر سره سوي ۰ دآمو دسيند دتيلوقرارداد چې  در غليو څخه ډک  قرارداد بلل کيږي ،  دچين د يوه ملي شرکت ( سي ان پي سي ) اود(  وطن ګروپ ) دشرکتونو سره د ۲۰۱۱ په دسمبر کي د۲۵ کلونو له پاره دمعدن دوزير له خواه په داسي حال کي  امضاء سوو چې دافغان دولت به سلو کي (۱۵) او مقابل شرکتونه په سلو کي ( ۸۵ ) ګټه تر لاسه کوي ۰

دقرارداد څخه ځو مياشتي وروسته په ځينو رسنيو کي دکرزي دکورنۍ نوم په داسي حال کي اخستل کيدي چې په دي قرارداد کي ددولت  په لوړه سطح درغلي سوي دي ، دا ځکه چې د( وطن ګروپ ) شرکت مالکان چې رشيد او راتب پوپلزي نوميري دکرزي دکورنيو څخه شميرل کيږي چې د دیلي تيلګراف د ورځپاڼي ( جون د۲۰۱۲ ) نيتي  په حواله دغه دوه تنه دمخدره موادو دقاچاق په تهمت نهه کاله په نيويارک کښي بند تيرکړي دي ( دآزادي راډيو  ۲۶ـ ۶ ـ ۲۰۱۲ ) ۰ ځکه نوپه هغه وخت کي  کرزي دسپيناوي له پاره دامريکا او برتانيا سفيران راين کراکر او ريچارد ستګ دملاقات له پاره ځان ته وبلل ۰ او دواړو سفيرانو کرزي ته وويل چې دآمو دسيند دتيلو په قرارداد کي کومه درغلي نه ده سوي ۰ او  هم دواړو سفيرانو وويل چې ددې تړونونو پروخت ددوي متخصيصين موجود وه نو ځکه کومه تيروتنه يا درغلي پکښي نسته ۰ دامريکا او برتانيي حکومتونو ددې قراداد جريان په مطمين ډول تفتيش کړي دي ۰ دنيويارک ټايمز ورځپاڼه بيا په دې اړوند ليکي چې ددولتونو تر منځ داسي اړيکي معمول نه لري چې يو حکومت دبل مملکت دخلګو دانتقادنو په وړاندي دهغه حکومت حمايت وکړي ، ولي دامريکا متحده ايالاتو دا کار تر سره کړ ۰ چې دورځپاڼي مقصد دپورتنيو دوو سفيرانو څخه دي چې دکرزي ملګرتيايي وکړل ۰ که دسفيرانو  پورتنيو څرګندونو ته

په لږ دقت توجو وکړو ځونه دحقیقت څخه لیري او د افغان ولس په وړاندي ځونه دچل او چم ځرګندوني دي ۰ دا ځکه چې ټول دفساد او چل و چم منشا هم دغه یو شمیر بهرني سفارتونه او ددوي متخصیصین دي ۰

بله دپام وړ خبره داده چې ځنګه کیدلایسي چې افغان ملي شتمنیو دپلوروللو دشفافیت تصدیق دي دیرغلي ځواکونو دحاکمیتونو دسفیرانو څخه وغواړي نود کرزي دا کړنه دا تصدیق کوي چې کرزي باید ووایي چې وطن مو اشغال دي اودوطن هره شتمني ددوي په لاس کي ده ۰ دخندا وړ خبره داده چې د معدنونو وزارت دوطن ګروپ پر قرارداد باندي سترګي پټوي او وایي چې دا قرارداد مو یوازي دچین دملي شرکت سره کړي دي ، دا ځکه چې دوي غواړي په نوموړي پروژه کي دلوړو چاراواکو دفساد پر شتون باندي پرده وغوړوي ۰

باید وویل سي چې دتیرکال په وروستیو کي د ( فارن افیرز ) بهرنیو چارو مجلي دخلیل زاد یوه مقاله خپره کړي وه. مجله لیکي ، چې خلیل زاد او زوي یي دآمو دسیند دتیلوپه اړوند دچین د تیلو دملي شرکت پر کامیابي احتجاج کړي وو۰ دا مجله وایي چې خلیل زاد او زوي یي د ( ګریون پارټنرز) په نامه دتیلو یو شرکت لري ۰ مجله لیکي کوم وخت چې چینایی شرکت دا پروژه وګټله دخلیل زاد او زوي نیوه کي دامریکا پر دفاع وزارت ډیري سولي ۰ چې ولي امریکایي شرکتونوته لومړیتوب نه ورکول کیږي او له دغه وزارت څخه یي وغوښتل چې امریکایي شرکتونه پر نورو غوره وګڼل سي ( بي بي سي ) ویب پاڼه ۰ دامریکایي چاراواکو دا ځرګندوني ښکاره په ګوته کوي چې د افغان ملي شتمنیو دلیلام پرسر باندي په ځونه بیشرمانه ډول دافغان ولس په پټه معاملي تر سره کیږي ، اوهر ګوډاګي کوښش کوي چې دامریکا تر یرغلي بیرغ لاندي دملي شتمنیو په دې لیلام او غنیمت کي خپل جیب ، د کورنیو او ډلي جیبونه ډک کړي ۰

ویل کیږي چې دآمو سیند دحوزي یوازي دنفتو قیمت ( لس نیم ملیارده ) ډالره تخمین سوي دي او په ډیر کم مصرف باندي کیدلایسي استخراج سي ۰ دمعدن دوزارت د پخواني معین ښاغلي ( غیاثي ) دخبرو په حواله چې وایي په پورتنیو نفتو ساحو کي مخکنیو دولتونو په میلیونو ډالرو په مصرف باندي ساحي کشف کړي اوارزش یي محاسبه کړي دي ۰ ولي دمعدن وزارت پورتني کار د قرارداد پروخت هیڅ په نظر کي نه دي نیولي ۰ دمعدن پخواني وزیر ښاغلي انجنیر عادل هم داسي وایي هغه دنفتو او ګازو معدنونه چې مخکي کشف سوي باید په قرار داد کي په سلو کي ( ۸۰ ) ګټه دولت واخلي او په سلو ( ۲۰ ) مقابله کمپني تر لاسه کړي ولي هغه معدنونه چې کشف یي نه وي تر سره سوي دمعدن دحجم په نظرکي نیولو سره باید په سلو کي ( ۵۰ ــ ۶۰ ) پوري ګټه دولت واخلي ۰افغان ملي ګټو ته ژمن کار شناسان لکه داولسي جرګي د طبیعي منابعو دکمیسون غړي قربان علی ( کوهستاني ) هم په دې نظر دي چې دآمو دسیند دتیلواستخراج کار دولت باید پرخپله غاړه اخستي واي، او هم لومړي باید دتیلو دتصفیی دستګاوی جوړي سوي واي ( ۸ ــ صبح ) ۰ باید وواېو چې ګوډاګي رژیم ته دورکړل سوي امپریالیستي پالیسي له مخي غواړي دملت ټوله شتمني دبهرنیو او یو شمیر کورنیو اقتصادي جنایتکارانوتر منځ تقسیم او دا ولس پس له ځوکلونوپرخالي میدان باندي پریږدي ۰ دتیر کال په وروستیو کي د فارن پالیسي په ورځپاڼه کي لیکل سوي وه ۰ چې دافغانستان دمعدنونو دعایداتو له پاره باید یو جلا صندوق جوړ کړل سي ، ددې صندوق اداره کوونکي باید کاملاً مستقل غیر سیاسي او دهر ډول سیاسي نفوذ څخه لیري وي ۰ دا کسان باید دمسلکي پوهي خاوندان وي او ټول حسابونه باید په شفاف ډول د کنترول پر وخت وښودلایسي ۰او دصندوق ټوله عایدات باید معلوم او هر کال ددولت بودیجي ته انتقال سي ۰ په داسي حال کي چې افغانان دخپلو معدنونو په هکله فکرونه وهي باید دا پورتني اصول په نظر کي ونیول سي ۰ متاسفانه چې نړي په اوس مهال کي دډیروداسي مملکتونو څخه ډکه ده ددې پر ځای چې دا عایدات خلکو ته خوشبختي او ښه ژوند راولي ولي دا پیسي په ځینو خاصو جیبو کي لویدلي دي ، او خلکو ته

مصیبتونه په وجود راوړي او دخلګو ژوند یي له منځه وړي دي ۰ افغانستان چی په اوس مهال کي دډیرو مشکلاتو سره مخامخ دي نو ددغو طبعي منابیعوعایدات باید دي مملکت ته بدبختي رانه ولي ۰

دحاجیګک دمعدني زیرمو په هکله په لنډه توګه باید ووایو چی : دا معدن نیژدي ( دوه میلیاره ټنه ) داوسپني ذخیره لري چی ترپروسس وروسته ناخالص ارزش یي تر یو تریلون ډالرو ډیر تثبیت سوي دي ۰ دځینو مسلکي کار پوهانو له نظره که یوازي دا معدن دملي ګټوپه نظرکي نیولو سره یي قرارداد تر سره سي ، تر دوو پیړیو پوري به هرکال دهم دي معدن څخه ( پینځه میلیارده ډالره ) ددولت دبودیجي سره یو ځاي کیږي ۰ په داسي حال کي چی د افغانستان کلني ، عادي او انکشافي بودیجه تر( ۵ میلیارده ) کمه ده ۰ دمعدن وزارت د۲۰۱۱ کال نومبر په ۲۸ مه دهندي او کاناډایي شرکتونو سره یي قراردادونه امضاء کړل چی دافغانستان دولت به په متوسط ډول په سلوکي ( پینځه اشاریه پینځه ) او مقابل شرکتونه په سلو کي ( ۵ , ۹۴ ) ګټه تر لاسه کوي ( ۸ صبح ) ۰ چی دا نو په حقیقت کي ستر ملي خیانت بلل کیدایسي ۰ ددې معدن په هکله داقتصادي جنایتونو پوره تفصیل لطفاً د ( ۸ صبح ) په ویب پاڼه کي ولولي ۰

تمت باالخیر

نوټ : لطفاً هم داسي رنګه یي ونشرته وسپاري ۰